**The Lighthouse Journal of Literature & Linguistics, Vol. 04, Issue 01, Summer, 2025, pp. 42-59**

# د سیده حسینه ګل د افسانو ي مجموعې «نیمګړی کتاب» موضوعاتي جاج

**Ruhma Naz[1], Syed Zafar Ullah Bakhshali [2]**


## ABSTRACT

*Sayyeda Hasina Gul (1966) is a renowned Pashto poet, novelist, playwright, travelogue writer, and literary critic. She has also written numerous short stories, which were published in various magazines and journals. Unfortunately, due to unfavourable circumstances, she was unable to preserve many of her works, and a significant portion of her short stories have been lost over time. However, some (almost 45) were collected and published in her three short story collections, 'Nimgarey Kitab' (2010),'Da Ukhko Maarghaan' (2015) and 'Kesey Da Kusey' (2025), all readily available today .These three collections demonstrate that Gul addressed a wide range of topics, focusing on themes relevant to the Pashto language, Pashtun society, and particularly Pashtun women. Gifted with a sharp intellect and keen observational skills, Gul was able to deeply analyse, notice, and evaluate every event, incident, and societal nuance around her. She skilfully captured these in her writing, employing a unique and captivating literary style. In today's fast-paced world, it is often challenging for the average reader to delve into and fully explore all of Gul's short stories in one sitting. This research article aims to provide readers with an analytical overview of the central themes present in Sayyeda Hasina Gul's short story collection 'Nimgarey Kitab'.*


**Keywords:** *Haseena Gul, Pashtun Women, Pashto Short Stories, Pashto Fiction, Pashto Literature, Gender Roles, Nimgarey Kitab, Short Story Collection*

د پښتوووړمبنۍ افسانه په کال ۱۹۱۷ء کښې سید راحت زاخیلي اولیکله او تر دا وخت د پښتو افسانو په پر مختګ کښې ګڼو افسانه نګارانو برخه اغستې ده خو حقه خبره دا ده چې د سړو په نسبت دښځو افسانه نګارانو شمېر په ګوتو شمېرلے شي ــ هم په دغه یو څوافسانه نګارانو کښې یو نوم د اغلې سیده حسینه ګل (۱۹۶۶ء) هم دےچې ډېر په پراختیا یې د افسانې په پنګه کښې اضافه کړې ده -او وخت په وخت یې ګڼې افسانې لیکلي دي چې د هغه وخت په رسالو او مجلو کښې به چاپ کیدې،ډېري پکښې دناسازګارو حالاتو چپو لاهو کړي هم دي او ځېنې پکښې د هغې په دري افسانوي مجمو عو کښې چاپ خوندي دي-

سیده حسینه ګل په خپلو افسانو کښې هر قسمه موضوعاتو له ځاے ورکړې دے،لکه سماجي،نفسیاتې، معاشي او د پښتنو د ټولنیز ژوند سره اړیکه لرونکي واړه ستونزي یې پکښې رانغاړ لې دي ــ

---

[1] Associate Professor (Pashto), Government Girls Degree College, Katlang Mardan, Khyber Pakhtunkhwa. **Corresponding author: ruhmanaz1985@gmail.com**
[2] Assistant Professor, Department of Pashto, Abdul Wali Khan University, Mardan, Khyber Pakhtunkhwa.

Manuscript Received: May 05, 2025
Manuscript Accepted: June 09, 2025

تر دا دمه د اغلي د افسانو دري مجموعي ( نیمګړی کتاب، د اوښکو مارغان او کیسي د کوڅي) چاپ دي

د سیده حسینه ګل د افسانو وړمبی مجموعه « نیمګړی کتاب » په کال ۲۰۱۰ء کښي د پیښور نه چاپ شوه چي پنځۀ ویشت افساني پکښي شاملي دي- دلته یو په یو د دغه ټولو افسانو موضوعاتي جاج وړاندي کولي شي ـ

په فني لوازماتو پوره یوه لنډه قیصی چي په یوه ناسته کښي ختمه شي،افسانه شمېرلے شي-دبنیادم د قیصی اورولو او قیصی اوریدو شوق دهغه وخته راروان دے چي پخپله بنیادم له دترقی په لار نه وو روان او په ځنګلونو او غارونو کښي به اوسېدوـ ورو ورو د وخت او بنیادم د غوښتنو په حساب د قیصی شکل او انداز بدلېدو، وړومبے یي د داستان شکل واغستو بیا ناول او اوس افسانه د چي د قیصي ذوق لرونکي خلق پري خپله تنده ماتوي ـ

افسانه دجدیددور پیداوار دے،او په پښتو ادب کښي د دي زړے ده شلمي پېړۍ په سر کښي رازرغون شو،کله چي سید راحت زاخیلي په کال ۱۹۱۷ ء کښي دپښتو وړومبۍ افسانه اولیکله او پښتو ادب کښي یي د دي صنف ابتدا پیل کړه ـ او تر دي دمه پکښي ډیرو افسانه نګار انود قدر وړاضافي کړي دي ـ او پښتو افسانه یي د نورو ژبو دافسانو سره سیاله کړي ده ـ هم په دغه افسانه نګارو کښي یوه لړۍ د ښځو افسانه نګارانو هم ده چي پکښي زیتون بانو، صفیه حلیم اود سیده حسینه ګل نامي د یادوني وړ دي-

سیده حسینه ګل د پښتو نامتو شاعره، افسانه نګاره، ناول نګاره، سفرنامه نګاره او نقاده ده، پۀ کال ۱۹۶۶ء کښي د میا مظهرشاه کاکاخېل په کور زیارت کاکا صېب نوښارکښي زیږېدلي ده ـ اغلي د پښتو هغه افسانه نګارانو کښي شامله ده چي د تېرو پنځه څلویښتو کالو راسي د پښتو ادب په مېدان خوره ده ـ

د سیده حسینه ګل فکر که یو طرف ته د پښتو شاعری مختلف موضوعات رانغاړي نو بل اړخ ته په پښتو سفرنامه،تنقید،ناول او افسانه په بڼه کښي د پښتو نثر په آئینه کښي منعکس کېږي.بیا د یو داسي شخصیت چي د فکر رڼا ګاني یي په هر لور خوري وري وي ، د یو خاص صنف سره تړل ګران شي ـ ځکه چي دا قسمه شخصیات د یو خاص صنف سره تړل یا محدود کول د هغوئ د عظمت او لوړوالي د تحدید کولو مترادف ګرځي ـ ولي دا هم حقیقت دے چي د هغوئ د خیال پیمانه د یو داسي بلوري په مثال ده چي کوم رنګ پکښي اچوي هم هغه پکښي جوت ښکاري،خواه که د هغه رنګ مقدار هر څومره وي ـ

په دغه تناظر کښې چې مونږ د سیده حسینه گل فن په برخې کوو نو یو اړخ ته شاعري ده چې ځان له د نظم او غزل رنگونه لري او بل اړخ ته نثر دے چې په ناول، افسانه،تنقید،مضمون،سفر نامه او سفري خاطرو په صورت جلوه گر دے ـ

دا وخت د سیده حسینه گل په مجموعي توگه اتلس کتابونه چاپ دي چې یوؤلس پکښې د شاعرئ او اووۀ پکښې د نثر دي ـ دغه شان د دغه دواړو برخو یو شمېر نا چاپه آثار هم لري ـ د اغلي په نثري آثارو کښې دري د افسانو مجموعي،دوه ناولونه ،یو د تنقید او یوه سفرنامه شامله ده ـ او دغسې د تر اوسه رارسیدلي اثارو په بنیاد د اغلي په نثر کښې د افسانو برخه زیاته ده ـ

د سیده حسینه گل زیات تر افسانې کرداري او واقعاتو دي ـ ولې د هغې هر کردار او هره واقعه د خپلې ټولنې نه راغستي شوي ده ـ ځکه د موضوعاتو په لحاظ رنگا رنگي لري ـ د موضوعاتو دتنوع په حقله ډاکټر عبدالرزاق لیکي:.

" انسان کی زندگی میں جو تنوع ہے،مثلا علمی مسائل ،معاشرتی مسائل و تعلیمی مسائل وغیرہ،چونکہ مسائل میں تنوع ہے اس لئے موضوعات میں بھی تنوع ہے۔ "[1]

او دغه شان د اغلي په افسانو کښې یو پله مونږ ته صداقت او ریښتونولي ښکاري نو بل اړخ ته اغلې حسینه گل هم د یوې جرات مندې او بې باکه افسانه نگارو په حیث ځان راښکاره کوي :

" محترمې په افسانوي ادب کې هم هغه څه په جار ښکاره کړي دي،کوم چې د پښتون معاشرې مسلې دي،خو ولې د وینا اظهار او جرآت ته یې ډېر کم لیکوال زړۀ نیولي شي،خو حقیقت خو ښې لیکوال او لوستونکي به حسینه گل ته یقینا داد ورکولو کښې د شومتیا نه کار وانخلي،ځکه چې حسینه گل چې د حقیقت نگارئ کوم اظهار په شاعرئ کې کړي دی،او کوم مقام یې په شاعرئ کښې حاصل کړی دی،هم هغه د حقیقت نگارئ اظهار یې په افسانو کښې هم څرگند ښکاري ـ "[2]

سیده حسینه ګل په خپلو افسانو کښې هر قسمه موضوعاتو له ځائ ورکړي دے،لکه سماجي،نفسیاتي ، معاشي او د پښتنو د ټولنیز ژوند سره اړیکه لرونکي واړه ستونزي یې پکښې رانغاړ لې دي ـ

> " د حسینه ګل افساني هم د حقیقت سره نزدې دي او دا د دي خبرې پخلی او دلیل دی،چې افسانه نګاره ښه ژوره مطالعه او مشاهده لري- چونکي هغه په خپله یوه ښځه ذات ده،خو بیا هم هغې په دې افسانو کې یوځې د ښځې نمایندګي نه ده کړې بلکې هغې د هر چا خبره کړې ده،په دې وجه د هغې د افسانو مو ضات مختلف دي او د یکسانیت ښکار نه دي "[3]

که په مجموعي توګه اوګورو نو د اغلي موضوعات په درېو غټو ډلو کښې وېشلي کیدی شي لکه یو هغه موضوعات دي چې علامتي دي او یو قسم له معمي دې ـ په دي کښې دهغوئ هغه افساني راځي چې د سیاست ،قام پرستی او د رومان د اثر لاندي یې لیکلي دي ـ لکه بې نومه،هلمند،توره بلا،کرښه،کشمالو او ګلوبلایزیشن ـ دویم هغه افساني راځي چې د پښتنو،پښتنو ښځو او دي دواړه د مسلو په اړه دي ـ لکه بنګړیواله،اختیار،لار،کردار،دشمن،ماتي دچا،وینځه،نیمګړی کتاب،بدله،لوپټه،باور،درشل،یور،مور،تږي او کردار ـ دریم هغه موضوعات دي چې د عام اولس ډ معاشرتي ژوند په اړه دي او د مختلفو معاشرتي بیمارو او مسلو غندنه کوي لکه تصویر،دروغ،انتساب او ښکلي زوئ ـ

.

د موضوع ،مقصد ،اسلوب او تکنیک هر لحاظ سره د سیده حسینه ګل افساني یو ځانګړے رنګ لري ـ اغلي ته دهغي د ادبي خدمتونو د اعتراف په توګه د نورو ډېرو و ړو ایوارډونو سره سره د پاکستان حکومت له اړخه پاکستان سول ایوارډ او صدارتي ایوارډ «تمغه امتیاز» ورکړے شوے دے،او د افغانستان حکومت ورته د میوند د ملالي د نوم ایوارډ ورکړے دے ـ

غرض دا چې اغلي د پښتو ادب په هاغه لیکوالو کښې شمېر ده چې یو اړخ ته د پښتو شعر په میدان خوره وره ده نو بل خوا یې د نثر په میدان هم د خپل رسا فکر نېزې ښخې کړې دي ـ هم په دغه تناظر کښې د سیده حسینه ګل د وړومبی افسانوي مجموعي جاج وړاندي کولي شي ـ

## نیمګړی کتاب

د سیده حسینه ګل وړومبئ افسانوي مجموعه چې په کال ۲۰۱۰ کښې د اسد دانش خپرندویه لخوا په کابل افغانستان کښې چاپ شوه، ټولي ۲۰ افساني لري چي پکښې مختلف موضوعات مخي ته راوړلي شوي دي ــ د اغلي د دي افسانوي مجموعي پۀ حقله اسیر منګل لیکي چې :

> ”حسینه ګل (۱۹٦۸) د افسانو یوه مجموعه نیمګړے کتاب پېښور ۲۰۱۰ خپره شوې ده - چې پکښې زیاتې د ښځو نفسیاتي او جنسي ستونزې انځور کړي شوي دي او پۀ دې حقله ئې ډېر د زړور توب نه کار اخستے دے - پۀ ټولنه کښې ښځو ته او پېغلو ته چې پۀ خصوصي توګه کومې کړمې پېښې دي د هغوي ئې پۀ فني توګه تصویرونه راښکلي دي ــ “[4]

دلته یو په یو د دغه ټولو موضوعاتي جاج اخیستلي شي :

۱: بنګړیواله

بنګړیواله د سیده حسینه ګل هغه افسانه ده چې پکښې یي د یوي طلاقي شوي ښځي حال بیان کړي دی چې د خپل ځان ساتني او خپل معاشي ضرورت له مخه به دښار نه کلي ته د بنګړو خرڅ له راتله- دي دوران کښي یي ده کلي د اډي د مشر( صدر صیب) سره جزباتي تړون پیدا شو.صدر صیب چې به د اډي د ټولو دوکاندارانو نه د قلنګ په طور کوم خوراکي څیزونه لکه پکوړي،امرسي،کباب او ځلوبی وغیره اخیستل نو تورانی( بنګړیوالي)له به یي پکښې هم برخه کوله،ولي د شنې میوي د دوکان نه راخیستي شوي منه به یي په ایک یواځي خوړه.هر څو که د تورانی به هم ورته ډېر زړۀ کېدواو بیا چې کله په تورانی د شوګر غړ وشونود دغي منې طلب یي نور هم سېوا شوخو صدر صیب به حسب عادت چرته هم تورانی ته د منې ست نه کولو-او د صدر صیب دغي رویي تورانی مایوسه کړه او هغي همیشه د پاره هغه اډه پرېښوده-

> "صدر صیب نن هم تورانی ته د منې ست ونه کړواو په قلار یې ټوله منه په خپله وخوړه- تورانی خپل شین پنډ په خپله په سر کړو،نه پردي مو ر و پلار د خپل مور و پلار ځای نیولی شي او نه پردی سړی د خپل خاوند- هغې یو غلی اسویلی وکړو او په درنو پښو د همیشه د پاره د دي اډې نه روانه شوه- “[5]

۲: هلمند

دنیمگړ ي کتاب دویمه افسانه د یوي کډوالي جینۍ په ژوند باندي لیکلي شوي ده چې په خپل وطن د اړي گړي په وجه د بل وطن په یوه خیمه کښې د خپلي رنځوري مور سره د مهاجرت ژوند اړوي.اخر د یو زلمي سره واده اوکړي او د هغه سره خپل وطن هلمند ته لاړه شي ولي هلته د یوي بمي چاودني ښکار شي.دغسي په دي افسانه کښې دجنگ او ترهگرئ ناسور ژړلي شوي دے او د امن په ضرورت زور ورکړي شوے دے.اکبر هوتي ایډوکیټ د دي افسانې په حقله لیکي چې:

> "هلمندنومي افسانه که هر څو په فني او تکنیکي حوالو سره یو ښه افسانه ده،خو د موضوع په لحاظ زړه ده،ځکه چې اوس د لر او بر په سیاسي هلو ځلو کې فرق راغلی دی-"[6]

۳:نوکري

په دي افسانه کښې د یو زلمي سحر گل د یتیمۍ ویر ژړلے شوے چې د پلار نه ورکوتے پاتي وو.او د ټولني په بره طبقي د طنز گزارونه شوي چې څنگه دوئ د خپل ضرورت په وخت د خوار غریب وینې اوڅښې خو د هغوئ د ضرورت په وخت گوټ اوبه هم نه ورکئ-

> "د سحر گل پلار چې مړ کیدو،نودی د لسو کالو اومه خوله ماشوم واو په پېنځم جومات کې یې سبق ویلو- یو رور او یوه ماشومه خور یې هم وه.د سحر گل مور خپله ټوله اسا به د سحر گل په تعلیم ولگوله-"[7]

> او چې کله تر لسمه تعلیم مکمل کړي نو د نوکرئ په تکل کښې تر د اکبر خان دفتره اورسي-

> " اکبرخان چې په تېر الېکشن کې دسحر گل د حلقې نه د صوبایي اسمبلۍ غړی منتخب شوی واو سحر گل ورسرو ډېرې منډې وهلې وې-"[8]

خو اکبر خان تري په دي خبره ځان خلاص کړي چې دا کار زما نه بلکي د تعلیم د محکمي د لوئ افسر دےاو هغه د

مایوسی نه خپل لیکلي د رخوا ست ریچي ریچي کړو او په درنو پښو د اکبر خان د دفتر نه رااووتو-

۴: اختیار

اختیار افسانه کښې اغلي دا خبره په ډاګه کړي چې زمونږ په ټولنه کښې چې کوم حیثیت نر ته حاصل دے ، ښځي ته نه شي حاصیلیدي،او ښځه به همیشه د یو نه یو نر په اختیار کښې وي،هغه نر د دي پلار هم کیدي شي،رور خاوند یا زوئ-لکه د دي افسانې مرکزي کردار گل رو چې په هر لحاظ یوه خودمختاره ښځه ښودلي شوي ده خو اخر کښې هغه هم دخپل ورکوټي پنځه کلن ورارهٔ تر وړاندي توره ډال اوغورځوي -

"خو رحیم دا کله منل،څادر په سر گل رو
اوس هغه ته اټاله وه.چې پوخلا یي هم کړي
او پاتي هم .....یا به ته نه ځي او یا
به ما بوځي....گل رو چې اوکتل نو حقه
دقه پاتي شوه-"[9]

۵: لار

لارافسانه هم د ښځي زات د مسلو نه ګېر چاپېره چورلي.او پکښي د دي خبري پخلے شوے دے چې د سړي ذات د ښځه زات نه چې کومي غوښتني وي-د هغي پوره کول په هر حالت ضروري وي هر څو که د ښځو نور ډېر کارونه،لانجي کونجې او مصروفیتونه وي- سړے به په هر حالت کښې خاص توجه غواړي او که داسي نه وي نو بیا دغه ښځه ډېر زر د خپل خاوند د زړهٔ نه څه چې د کور نه هم په وتلو مجبوره شي-

"—ته زما سره اوس هم مینه کوې؟
یوه ورځ ما د خپل خاوند نه خدای خبر
ولې یو تپوس وکړو.
---- نا ---
د هغه په دي سکوټ انکار زما زړه زري
زري شو"[10]

۶: دشمن

دشمن افسانه یي د یو پښتون د بدل اخیستو په اړه لیکلي شوي افسانه ده- چې یو پښتون تر څو خپل بدل نه وي اخیستي نوهغه په چین او اطمینان سره نه شي کېښناستلےاو هر وخت دغه سودا لري چې څنګه به وي چې زر تر زره خپل بدل او انتقام واخلم ، تر دي چې دغه سودا بعضي وخت د دهٔ په عقل هم پرده خوره کړي لکه د دي افسانې مرکزي کردار چې د خپل رور د قاتل په تلاش او دهغه د وژلو په کوشش کښې دومره لېونے شي چې په نېمه شپه ورته ور اوډبېړي نو وايي چې ګني د وررور قاتل مې ور ډبوي او د ور خلاصولو سره ډز شي چې خپل بل سکه مسافر رور اوولي ـ

"دده ګس لاس یو دم د ور زنځیر ته نزدي شو او په ښي لاس یې خپله تمانچه ښه کلکه ونیوله او یوه لحظه پس یې په ښي لاس ښه په نره دوه ګولۍ مخامخ ورشغولې وې او بیا د لاش د ګزاریدو درز سره- چې هغه په فاتحانه انداز د لاش مخ ته یو ځل بیا په غور د بېټرۍ په رڼا کې وکتل،نو د هغه د سکه مسافر ورور لاش په وینو کې سور د هغه مخې ته پروت و_"[11]

۷: کردار:

په کردار افسانه کښې د یوي ښځې خاوند قیصه بیان شوي ده چې یوه ښځه همیشه په خپل خاوند ننګ او پت کوي،خواه که د هغي خاوند هر څنګه وي، ولي د خاوندانو زړونه د کاڼو وي-د هغوئ د وړاندي دغه اخلاص او وفا هیڅ معني نه لري-

" ما چې به کله هم ډېر په دوستانه اعتماد سره د هغه نه د هغه د ژوند د دي محرومو وجوهات او پوښتل،نو په ډېره سادګۍ به یې راته ووېل،چې:
--- بس نوره هېڅ خبره نه ده ،خو خوښه مې نه ده او کېدی شي دا خبره د هغې د اړخه هم وي-"[12]

۸: کرښه

کرښه یوه مختصره رومانوي افسانه ده چې د دوو کسو تر مینځه د وصل او جدایی دواړه کیفیتونه بیانوي او دا حقیقت واضحه کوي چې د انسان او قدرت اراده یوه نه وي:

" څومره ارمان مې کولو چې ته دیې زما سره چرته په څنګ کښې وي ،بیخي نزدي او نن دا ځای،دا کمره لکه چې یوه امتحاني کمره وي،ته زما نه په لږه فاصله په دي هال کښي موجود یې"[13]

"یو اواز او بیا د ګوتي یوه اشاره زما طرف ته اوچته شوه،
زما نوم د لومړي ګروپ لپاره اعلان کړی شو،د دویم سره،دې اواز او د ګوتې اشاري ته په دویم ګروپ کې اعلان کړي او ماته داسې محسوس شوه،لکه چې دغه د یوي ګوتي دوو اشارو د همېشه د پاره زمونږ په مېنځ

کې د جدايۍ يوه نه ورانيدونکې کرښه
راښکلې وي"[14]

۹: بدلون

په بدلون افسانه کښې د خوار غريب خواره ورځ ژړ لي شوي ده چې زمونږ په وطن کښې د خوار ورځ به هميشه خواره وي.ګو چې بدلون او تغير هم د ژوند برخه ده ،خو دغه بدلون او انقلاب هميشه د طاقت ور د طاقت،ژوند يا ژوند سره تړلي نورو لوازماتو د ښه کولواو دخوار غريب حالت د نور نه نور خرابولو تر حده محدود وي-

۱۰ : ماتي د چا؟

په دي افسانه کښې د خانانو د يوي کورنۍ قيصه بيان شوي ده-يوه بي اولاده جوړه چې خاوند يي د بي اولادئ الزام په ښځه ږدي او ښځه په دي حقيقت ښه پوهه وي چې نقصان د هغي نه بلکې د هغي د خاوند وي-

"زه به دويم وادهٔ اوکړم ځکه چې ستا
حيثيت د هغي شنډي ښځي دي چې ميوه نه
لري.
هغه په يوه ساه دا هر څه اوويل او ګل
اندامه چې چوپ پاتي نه شوه يو سپک يې
ورته نېغ کړو:
ـــــــ هو چې ستا ښځه يم او ته مې خاوند
يې.."[15]

د ګل اندامي دغه خبره هستم خان د خپلي انا په مخ سپېږه او ګنله او د ګل اندامي د غلط ثابتولو د پاره يې د خپل دهقان د لور بختو سره وادهٔ اوکړو:

"او ټيک څلور مياشتي پس د هستم خان په
حويلۍ کښې د خان کره د وړمبي اولاد د
راتګ اميد پېدا شو-"[16]

او دغه شان ګل اندامي خپله ماتې اومنله :

" خو د حويلۍ حقيقت دا و،چې د خان منشي
کرم داد به روزانه د سحر په خړه د حويلۍ
نه پټ مخ په غلا وتو-"[17]

غرض ددي افساني موضوع هم لکه د اغلي حسينه ګل د نورو زيات تر افسانو د ښځو پاکي،معصوميت او مظلوميت په ډاګه کول او د هغي په مقابل کښې د سړي کبر ،غرور او انا ښکاره کول دي-

۱۱: وينځه

په وينځه نومي افسانه کښې اغلي حسينه ګل په ډېر چل او هنر يوه زړه موضوع په نوي طرز بيان کړي ده چې د خان يا سردار

په کور کښې څه رنګه د وینځې استحصال کېږي-پۀ دي حقله اسیر منګل لیکي چې :

”وینځه د یوې خوارې پېغلې د ژوند روداد د دې ګناه صرف دا ده دې د یو غریب پۀ کور کښې زېږېدلې دوي او پۀ اولس کښې د داسي خورانو د پاره هیڅ ځاے نشته - د دوي حقونه د پښو لاندې کېږي او د عزت ئې بېخي خیال نۀ ساتلے کېږي -“[18]

اغلي حسینه ګل د دغه استحصال ښکاره کونه داسي کوي:

" بي بي د سر نه تر ښپو دخپلي پېغلي وینځي جاج واخیستو،د هغي زېړ زبېښلی رنګ،د مخ په ککو ړو پرېوتو تر سیرو او د سترګو نه چاپېره تورو حلقو سره سره نور جسماني بدلون لکه چې بي بي ته ډېر څه وویل او بي بي د دي هر څه په لیدو دومره خوشحاله شوه،چې د خوشحالی نه یي سترګي د اوښکو ډکي شوې-

بي بي زر د خپلي وینځې خواه ته نزدي شوه- خدایه! شکردی حې زما بچې دي جوړ کړو،زه هم نن ځم چې د زوی د سخر سره د زوی د واده خبره پخه کړم-"[19]

## ۱۲: کشمالو

کشمالو یوه رومانوي افسانه ده چې د یوي پښتني پیغلي دماشومتوب نه تر ځوانی د ټول عمر قیصه پکښې بیان شوي ده او د خپلي مور د لاس کرلي شوي کشمالو د بوټي سره د هغي د جذباتي تړون اظهار پکښې شوي دے-

" د پلار د ځلوېښتی نه پس چې هاسټل ته لاړم ،نو نور سبق رابانديي بوج جوړېدو،ماته به اوس هر وخت یا د خپل کور د انګڼ د کشمالو بوټی رایا دېده او یا د خپل ماشوموالي ملګری شاه ګل-دومره ډېره د خپله کوره لرې به هم زما نه ګېر چاپېره د هاغه کشمالو خوشبویي موجوده وه، چې زما سره یي یو نسبت و،چې مور او پلار مې ورسره زما نه سېوا مینه کړي وه-"[20]

## ۱۳: کونډه

کونډه نومي افسانه هم په ټولنه کښې د ښځو سره په کېدونکي ناروا سلوک په ستن اډانه لري،دا د یوي داسي جېنی د زړۀ دړدونکي قیصه ده چې د خپل میین سره د نکاح د ت□ون نه بغیر وخت تېروي-

" د جينۍ ضرورت مينه وه او د سړي ضرورت
ښځه "[21]

او بيا څه موده پس چې دغه سړی په يو حادثه کښې د دنيا نهکوچ اوکړي نو دغه جينۍبيا يواځې پاتې شي او چې د يو نېم ځالي سړی له اړخه ورته د نکاح پيغام راشي نو دا يې د دې عزم سره قبول کړي چې ژوند کښې به رشتيا د همېشه د پاره پرېږدم،او دغسې دې نوي کور له هغه څه نه ورکول غواړي کوم چې يې مخکې له ورکول ګويا هغې هم اوس د دنيا نه د دروغو او منافقت چل زده کړي وو-

" -تۀ کونډه خو نه وې؟
اخر يې د خاوند د زړه خبره تر خولې
راورسېده-
--هو !
هغې هم سترګې ښکته کړې.هغې داسې وګڼله،
چې په دې دروغژن اقرار لکه چې هغې د سړي
ذات نه د خپلې هرې زياتۍ انتقام اخيستی
وي-"[22]

## ۱۴: نيمګړی کتاب

دا افسانه د حقيقت رنګ لري او داسې ښکاري چې لکه اغلي حسينه ګل د خپل ژوند قيصه،تجربه را شريکه کړي وي.چې د يو تخلېق کاري او فنکاري ښځې ژوند او فن د واده نه مخکښې څنګه وي او د وادۀ نه پس هغه دکوم قسم حالاتو سره مخ کېدی شي آياد وادۀ سره د هغې په فن او تخليق کوم قسم اثر پرېوځي او کنه؟ او بيا يې دا خبره ډاګيزه کړې چې که دژوند ملګری ښه وي نو دغه فن او تخليق نور هم وده مومي-څه که د وادۀ نه پس د هرې جوړې دا خواهش او ارمان هم په زړه کښې موجونه وهي چې د هغوئ هغه تخليق دې هم دنيا ته راشي کوم چې د دواړو په شريکه وي.لکه چې اغلي حسينه ګل يې د هغې فنکاري د خولې داسې بيانوي:

" زما ليکل هر ځائ ته رسېدلي دي، زما
تخلېقات هر چا لوستلي ،خو زمونږ په کور
کښې اوس د هاغه تخليق څه سوچ پکار
دي،کوم چې زمونږ د دواړو شريک تخليق دی-
ما به دخپل زړۀ خبره هغه ته ور ورسوله "[23]

ولې د افسانې اختتام دا خبره واضحه کړي چې څه که دغه تخليق ددوئ دواړو سره نسبت لري ولې د تخليق کونکے يې الله وي،او چې تر څو د الله حکم نه وي شوے نو د دوئ هر تخلېقي کوشش به د يو نيمګړی کتاب بڼه لري- افسانه نګاري دغه کيفيت څه دا رنګ ښکاره کړي دي:

" چې مې سترګې اوغړولې، نو زه د يو
پرايېوېټ سرجيکل هسپتال په يوه پرايېوټ

کوټه کښې په هسپتالي کټ پرته وم. د ځانه
چاپېره ټولو خپلو مېنو او په تېره تېره
چې مې خپل د ژوند ملګرى په ځان رانسکور
شوى د اوښکو ډکې سترګې اولیدو،نو د خپل
وجود د خالي شوي ګوګل منظر مې د ژوند د
یو بل نوي،خو نیمګړي کتاب شکل کې مخې ته
و-"[24]

## ۱۵: توره بلا

توره بلا یوه علامتي افسانه ده، چې پکښې د وطن بده ورځ ژړلي شوي ده،اود هغه ټولو عناصرو غندنه شوي ده چې لکه د توري بلا یې د وطن په وجود پنجې ښخې کړي دي-

" نا څاپه تاریخ خپل اړخ بدل کړو،نو زما
د وجود ښار د تاریخ د یوې نوې لویې المیې
سره مخ شو، د چرته بل ځائ نه وه،که ددې
ښار د ځنګل وه،خو یوه توره بلا د ښار په
وجود ورو ورو اموخته شوه-"[25]

## ۱۶: تصویر

په تصویر نومي افسانه کښې د یوي ښکلي مینه ناکي جینۍاو د هغي د فنکار خاوند قیصه بیان شوي ده-

" دهغې فنکار، چې هغه د خپل فن جادو صرف
او صرف د خپلې ښځې مینه ښایست ګڼلو ،او
داسې یې ډېر شاهکارونه د دي لافاني مېنې
او حسن په زور جوړ کړي وو، دنیا د دۀ د
تصویرونو صفتونه کول-"[26]

په دي افسانه کښې دغه حقیقت واضحه کړی شوی دی چې چرته که ښځه ذات د کائنات د تصویر یو ښکلے رنګ دے لکه چې اقبال وائي:

"وجود زن سے ہے تصویر کائنات میں رنگ
اسی کے ساز سے ہے زندگی کا سوز دروں "[27]

نو بل خواه د دي خپل تصویر هله مکمل شي چې دا مور جوړه شي-افسانه نګاره دغه حقیقت په ډېرو لنډو ټکو کښې داسې بیانوي:

" د دي ډېر خواهش و، چې د هغې خپل فنکار
دې د هغې یو ښاېسته تصویر په خپلو لاسونو
جوړ کړي او چې دا به یې فنکار ته ووې
،نو هغه به یو سوړ اسویلی وکړو:
--- تۀ لا مکمله نه یې،نو ځکه زما تصویر
به هم نیمګړی وي...."[28]

یا دا چې:

" هغې په کینوس خوره پرده رو غندې اخوا کړه، د یو ښکلي ماشوم تصویر د هغې د اودو جذباتو دنیا په ډېر عجیبه انداز راولړزوله،واړه واړه لاسونه،لکه چې د مور د غېږې ځانګو لټوي، خو د هغه مور لکه حې د هغه نه چرته ورکه وي-"[29]

۱۷:بدله

بدله افسانه هم د قامي فکر په اساس لیکلي شوي افسانه ده، ولي د علامت در علامت استعمال داسي ګنجلکه کړي،چې عام قاري یې په موضوع نه شي رسېدے، خو داسي ښکاري چې د افساني مرکزي کردار د خپل ضمیر سره په جنګ دے،او یا د پښتون قام د خپل تاریخ سره ،یو داسي جنګ چې په هغي کښې د یو ګټه د بل ګټه او د یوبیلات د بل بیلات دے- نو بیا په داسي صورت حال کښې به څوک د چا بدله د چا نه او څنګه واخیستلے شي،د افساني تر مخه اغلي دغه تصادم څه داسي بیانوي:

" ما د ډېري غوسې او شدید کرب د وجې د ده نه د بدلې اخیستو د پاره څه خاص تیاري هم نه و ،ځکه چې ماته د ده په وجود کې د څه خاص مزاحمت قوت په نظر نه راتلو.د ده راغورځول زما د پاره هیڅ ګران کار نه و،دا اساني خو ماته زما د حال تاریخ راکړې وه ،خو زه د خپل ماضي د تاریخ نه ،نه شوم وتلي -"[30]

۱۸: ګلوبلایزېشن :

ګلوبلایزېشن هم یو رومانوي او علامتي افسانه ده،او لکه د اغلي حسینه ګل د نورو علامتي افسانو سپرلی ګل،بدله او توره بلا د ابهام ښکار ده،لکه چې اغلي پخپله د دي افسانو په حقله وایې:

" ګلوبلایزېشن خو خالصه یوه علامتي افسانه ده او تر څه حده سپرلی ګل هم،خو د علامت خپله یوه ژبه وي د اظهار البته علامت نګاری یا تجریدیت کښې خپله یوه ستونزه موجود وي چې هغه په یو نظر خپل ابلاغ په لوستونکي نه کوي،دا هم ضروري نه ده چې ما دا افساني په کوم خیال لیکلي دې،زما لوستونکي دي تري هاغه مطلب واخلي.علامت د تجریدیت یوه برخه ده،په

علامتونو او اشارو پو هېدل لږ د بیا بیا
لوستي نه پس خپل وضاحت کوي-"31

۱۹: درشل:

په درشل نومي افسانه کښې د یوي بي وسه کونډې قیصه بیان شوي ده چې د خاوند د مرګ نه پس ورته څنګه خپله او د خپلو بچو خېټه پالل ګران شوي دي،هغه په یو زهني او نفسیاتي کشمکش کښې راګېره وي چې که د خېټې غم کوي نو عزت یې تالا کېږي او که عزت ساتي نو بچي یې دلوږي مري،او دغه د ظالم او بي حسه خلقو ټولنه چې بغیر د غرضه هیڅ یو کس د بل خیال نه ساتي،اخر هغه په دي مجبوره کړي چې د خپل عزت په سوداګرۍ د خپلو بچو خیټه مړه کړي-

" هغي ته داسي محسوس شوه چې د دې ضرورت
په پېژندلو هغه خپل هم یو ضرورت تر دې
رارسولی دی
نا...نا...هو...نا
د هغې په مزغو کښې د انکار او اقرار یو
بحران شروع شو، هغې زر په خپله سینه لاس
کېښودو،په هاغه سینه چې د وړي ماشومې د
خېټې ضرورت ورپوري تړلی و او دې سره یو
دم هغه د دي پردي نارینه په ضرورت هم
پوه شوه-"32

۲۰: باور

د افسانه هم د حقیقت رنګ لري او لکه د نیمګړي کتاب د مرکزي کردار د یوي فنکاري ښځي د وادۀ نه پس خپل داخلي او خارجي جذبات،تاثرات او مشاهدات یي پکښې ښکاره کړي دي-چې که د واده نه پس د کور ماحول ښه وي او د سخراني بهروسه په دي قایمه وي نو دغه باور د دي حوصلي ته نور هم استحکام بخښي-

" د کانفرنس دعوت نامي راورسېدې،ماته هم
خپله دعوت نامه مخکې پرته وه،لا لا جي
راغلو،نو نوید د ټول صورت حال نه خبر
کړو-
--- زر تیاري کوئ،دواړه لاړ شئ،ستاسو چکر
به هم اوشي او څه ذده کړ ه به هم وکړئ-
دا لمحه زما د ژوند یوه داسي لمحه
وه،زما په ژوند او فکر راغلې کنګل یې په
خپل حرارت ویلي کړو او ما په یوه نوي
جذبه، په مینه محبت،باور،یقین، او
اعتماد د خپل لالا شفیقي څیري ته وکتل،چې
ماته یې دا یقین بیا بیا راکولو:زه
درسره یم--- "33

۲۱: لوپټه

لوپټه نومي افسانه کښې د يوي داسي پيغلي قيصه بيان شوي ده ،چې د مغربي تهذ يب له اثره يې نه صرف د خپله سره لوپټه خويولي وي بلکي تر ډيره حده يې خپلي جامي هم بې لوپټي ساتلي وي –

په دي افسانه کښې د لوپټي کوم چې په پښتنه معاشره کښې د حيا او د تهذيب علامت دے،اهميت واضحه کړي شوي دی،او د افساني په مرکزي کردار دغه اهميت هله واضح شي چې د خپل کور نوکره ورته د خپل تره د سر منلي شوي د منښتي لوپټه په سر کړي د دي وينا سره چې:

"--- دا مې د تره د سر منلې وه،نيا مې راته وي منښته به هاغه غريبې ته ورکوې چې لوپټه يې نه وي–"[34]

## ۲۲: ښکلی زوی

په دي افسانه کښې زمونږ د ټولني د هاغه ناوړو مخونو نه پرده اوچتولو کوشش شوی دی چې د پيسو روپو ګټلو د پاره يې هر ناجائز کار په ځان روا کړي وي–

" ډاسې به مې په خپلو لاسو تيار کړی سمبال کړی خاوند يوې داسې سودا ته روان کړي خاوند يوي داسې سودا ته روان کړو، چې قيمت يې د هغه سره سره ما هم ادا کولو–"[35]

## ۲۳: انتساب

دا افسانه هم لکه د اغلي حسينه ګل د مخکښې تېرو دوو افسانو( باور او نيمګړی کتاب)د حقيقت رنګ لري:

" نادر زما خاوند دی،زما په نزد يو داسې مقام،چې ډېر اوچت والے لري...زه خو په دي مقام او مرتبه هغه دنيا ته ښودل غوا ړم "[36]

"تا خو د يو لوئ کتاب ترون زما په نوم کړی دی،تا نه هېڅ شو څه....
نادر اوس لږ سنجيده شوی وو–
--- د کوم کتاب.....؟
زرميني په ډېره حيرانتيا او سادګی د هغه نه تپوس وکړو.
د خپل ژوند او زندګی د کتاب–"[37]

## ۲۴: بې نومه:

د قامي فکر په اساس ليکلي شوي يوه علامتي افسانه ده،چې د دي خبري پخلے کوي چې تر څو د دي وطن خپل شناخت او خپله پېژندګلو نه وه نو دا وطن د ډېرو کړمو سره مخ وو،او بيا کله

د ډېرو سختو او تکليفونو د زغملو نه پس چې مونږ ته خپله خاوره بيله کړي شوه او د وطن نوم پري کېښودلے شو نو د هغي ورځي نه د دي د ترقۍ او پرمختګ سفر هم پيل شو-

" مشر ډېر فکر مند و، خو د ماشوم مئينو
نن يوه پخه اراده کړې وه- سحر وختي د
ماشوم سره راغنډ شول او په هغه يې د يو
ښايسته نوم غږ وکړو
--- وطن....
هغه يو دم راپاڅيدو، کېناستو او بيا
ودريدو، د هغه په سترګو کې د خوشحالۍ
اوښکې راغلې وې.اوس هغه په منډو منډو
ګرځي"[38]

**۲۵: دروغ**

په دي افسانه کښې د دي خبري وضاحت شوى دى چې څه که ده ميني محبت په کار کښې دروغ،د دروغو لوظونه،صفتونه،تذکري، لويې لويې خبري او وعدي ډېر خوند کوي،خو هر يو څېز د يو خاص حده پوري مزه کړي ،ځکه دغه دروغ د مبالغي تر حده رسول نه دي پکار- او که چري داسي اوشي نو د خبري ټول خوند تالا ترغه شي-

" زه ستا نه بغير ژوندي نه شم پاتي کېدى-
او په دي خبره زه پوه شوم،چې هغه دروغ ويل-" [39]

دا پورته ذکر شوو افسانو نه دا خبره واضحه کېږي چې اغلي حسينه ګل په خپله ټولنه يو ژور نظر لري،او د خيال او نظر د نيلي نه يې هيڅ داسي خبره نه ده پاتي چې هغي پري ليکل نه وي کړي،نوي نوي موضوعات پيدا کول او هغي ته ځلا ور بخښل د هغوئ د لېک خاصه ده-

د هغوئ د لېک سفر له د خيره روان دے او الله دي اوکړي چې په راروان وخت کښې نوري ډېري ښې ښې افساني د پښتو ادب جولۍ ته اوسپاري،الله دي يې په ژوند اوفن دواړو کښې برکتونه کېږدي-

---

---

حوالې او حاشيې


1. عبدالرزاق، ڈاکٹر، مضمون،فن تحقيق ، ( مشموله اردو ميں اصول تحقيق) ، جلد اول،ايم سلطانه بخش روڈ ،ويژن پبليشرز،اسلام ابا د،1986 ، ص81

2. سيده حسينه ګل ،نيمګړى کتاب، اسد دانش مطبعه کابل ، کال ۲۰۱۰مخ ب

3. ايډوکيټ ، اکبر هوتي،نيمګړي کتاب( يو تاثر) ،ص ح

4. اسیر منګل، د پښتو افسانې سل کلن بهیر، اعراف پرنټرز، ۲۰۲۰، مخ ۲۸۸
5. سیده حسینه ګل،نیمګړی کتاب،اسد دانش مطبعه،کابل،کال ۲۰۱۰ ،مخ مخ۳-۴
6. اکبر هوتي ایډوکیټ،نیمګړي کتاب یو تاثر ، همدغه کتاب. مخ خ
7. سیده حسینه ګل،نیمګړی کتاب،مخ۱۳
8. هم دغه کتاب مخ۱۴
9. هم دغه کتاب مخ۲۰
10. هم دغه کتاب مخ۲۴
11. هم دغه کتاب مخ۲۹
12. هم دغه کتاب مخ۳۱
13. هم دغه کتاب مخ۳۵
14. هم دغه کتاب مخ۳۶
15. هم دغه کتاب مخ۴۲
16. هم دغه کتاب مخ۴۳
17. هم دغه کتاب مخ ۴۳
18. اسیر منګل، د پښتو افسانې سل کلن بهیر، مخ ۲۸۸
19. سیده حسینه ګل،نیمګړی کتاب، مخ۴۶
20. هم دغه کتاب مخ۵۲
21. هم دغه کتاب مخ ۵۴
22. هم دغه کتاب مخ ۵۷
23. هم دغه کتاب مخ ۶۱
24. هم دغه کتاب مخ ۶۱
25. هم دغه کتاب مخ ۶۲
26. هم دغه کتاب مخ ۶۷
27. علامه اقبال،کلیات اقبال،مرتبه احمد رضا، اداره اهل قلم لاهور، ۲۰۰۵، ص ۶۰۶
28. سیده حسینه ګل،نیمګړی کتاب، مخ ۶۸

29. هم دغه کتاب مخ ۷۰
30. هم دغه کتاب مخ ۷۱
31. سیده، حسینه گل ،ټیلیفونک مرکه،جمعه ۱۳ دسمبر ۲۰۲۴ ، غرمه دولس بجې
32. سیده حسینه گل،نیمگړی کتاب،مخ،۸۴
33. همدغه کتاب مخ ۹۴
34. همدغه کتاب مخ ۱۰۱
35. 3هم دغه کتاب مخ ۱۰۴
36. همدغه کتاب مخ ۱۱۱
37. همدغه کتاب مخ ۱۱۲
38. همدغه کتاب مخ۱۱۷39
39. هم دغه کتاب مخ ۱۱۸